UNAMA
دیوناما مطبوعاتي اعلامیه
UNITED NATIONS ASSISTANCE MISSION IN AFGHANISTAN

**په افغانستان کې ملکي تلفات لوړې کچې ته رسېدلي – د ملګرو ملتونو رپوټ**

**کابل د ۲۰۱۹ کال د اکتوبر ۱۷ مه -** د ملګرو ملتونو مرستندویه پلاوی ( یوناما) له لوري نني خپاره شوي ارقام ښيي چې د ۲۰۱۹ کال په دریمه ربع کې د ملکي وګړو مرګ ژوبله خپلې لوړې کچې ته رسېدلې او په جګړه کې ښکېلو خواوو ته ډېره اړینه ده چې د ملکیانو په خوندیتوب کې لازیاته هڅه وکړي.

په ټولیزه توګه، د ۲۰۱۹ کال په لمړیو ۹ میاشتو کې، د یوناما د ثبت شویو ارقامو له مخې ۸۲۳۹ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې ( ۲۵۶۳ مړه او ۵۶۷۶ ټپیان) – چې له ۲۰۱۴ کال راپدېخوا په متواتر ډول د ۹ میاشتو په موده کې په افغانستان کې د ملکي وګړو د لوړې کچې مرګ ژوبلې په ډاګه کوي. همدارنګه، د کال په وروستۍ ربع کې یوناما د ملکي تلفاتو ترټولو لوړه شمېره ثبت کړې.

د جولای له لمړۍ د سپټمبر تر ۳۰مې د ملکي وګړو دمرګ ژوبلې په تایید شوې شمېره کې د ۲۰۱۸ کال د همدې مودې پرتله ۴۲ سلنه زیاتوالی راغلی دی. پردې سربېره په جولای میاشت کې یوناما، چې له ۲۰۰۹ کال راهیسې یې په افغانستان کې په سیستماتیک ډول د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې ثبتونه پیل کړې، په یوه میاشت کې د ملکي وګړو تر ټولو لوړ شمېرتلفات ثبت کړي دي.

ترهغه وروسته د سږ کال په لومړیو شپږو میاشتو کې د ملکي تلفاتو په مجموعي شمېر کې کموالی راغی، چې ترډېره د دولت ضد عناصرو لخوا ملکي مرګ ژوبله کمه شوه، خو د کال په دریمه ربع کې د حکومت ضد عناصرو لخوا د ملکي تلفاتو په کچه کې بیرته شدید زیاتوالی راغی. په ورته وخت کې د جنورۍ له لومړۍ د سپټامبر د میاشتې تر۳۰ مې نیټې پورې د حکومت پلوه ځواکونو دهوایي بریدونو او پلټونکو عملیاتو له کبله هم ملکي مرګ ژوبله زیاته شوه.

د افغانستان لپاره د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړي استازي تدامیچي یاماموتو وویل "د ریکارډ په کچه د ملکي تلفاتو لوړوالی په روښانه ډول ښیي چې ټولې ښکېلې غاړې دې د ملکي خلکو خوندیتوب ته پام ډېرکړي او د عملیاتو د ترسره کېدو پرمهال دې خپل چلند ته بیا کتنه ولري."

"په افغانستان کې دجګړې له کبله په لوړ شمېرکې د ملکي وګړو دمرګ ژوبلې رامنځ ته کېدل د داسې سولې د خبرو اهمیت په ګوته کوي، چې د اوربند د رامنځ ته کېدو او د جګړې د پای ته رسیدو لپاره دیو سیاسي دایمي جوړجاړي سبب شي؛ کومه بله لار نشته. ښاغلی یاماموتو چې د یوناما مشر هم دی زیاته کړه: "د ملکي وګړو مرګ ژوبله په هیڅ ډول د منلو نه ده په ځانګړي توګه چې ټول په دې باور دي چې د افغانستان جګړه نظامي حل لاره نلري"

په رپوټ کې د را نغاړل شویو نهو میاشتو په موده کې ترټولو ډېره ملکي مرګ ژوبله د ځانمرګو بریدونو او تعبیه شوو چاودیدونکو توکو له کبله رامنځ ته شوې چې د ټولو تلفاتو۴۲ په سلو کې جوړوي. ځمکنۍ جګړې د ملکي تلفاتو دویم لوی عامل دی، چې ۲۹ په سلو کې مرګ ژوبله یې رامنځ ته کړې او ورپسې هوایي بریدونه دي (۱۱سلنه مرګ ژوبله)، چې په دغه موده کې یې د ملکي تلفاتو لویه برخه رامنځ ته کړېده.

رپوټ ښیي چې د جنورۍ له ۱ د سپټامبر تر۳۰مې نیټې پورې حکومت مخالفي عناصر د ۵۱۱۷ ملکیانو د مرګ ژوبلې لامل شوي (۱۲۰۷ تنه مړه او۳۹۱۰ ټپیان) چې دا شمیره په یاده شوې موده کې د ټولو تلفاتو ۶۲ په سلو کې مرګ ژوبله ښیي. یوناما موندلې، چې دحکومت پلوو ځواکونو لخوا ۲۳۴۸ ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې (۱۱۴۹ مړه او ۱۱۹۹ ټپیان) چې د ۲۰۱۸ کال ورته مودې پرتله ۲۶ په سلو کې زیاتوالی ښیي.

د یوناما وروستۍ رپوټ دملکي تلفاتو جزییاتو او دهغو عواملو ته په کتو سربېره، ښیي چې په افغانستان کې د ټولو ملکي تلفاتو ۴۱ په سلو کې ښځې او ماشومان دي. د ۲۰۱۹ کال په لومړیو نهو میاشتو کې، یوناما ۹۲۳ ښځو ته مرګ ژوبله (۲۶۱ وژل شوي او ۶۶۲ ټپیان) او۲۴۶۱ ماشومانو ته اوښتي تلفات مستند کړي، چې ۶۳۱ تنه یې وژل شوي او ۱۸۳۰ نور یې ټپیان شویدي.

دیوناما د بشري حقونو د برخې مشرې فیونافریزر وویل: "په افغانستان کې د رواني جګړې اغیزې پرملکیانو وحشتناکې دي، هر تایید شوی نمبر(ملکي تلفات) یو انسان دی، د یوچا خپل، پلار، مور، ورور، ځوی یا لور ده. " هغې زیاته کړه. "ملګري ملتونه به د جګړې له ټولو غاړو سره ترهغه د عدالت غوښتنې کار ته دوام ورکړي، چې د ملکي وګړو مرګ ژوبله صفر ته ورسیږي. "

ملګري ملتونه یوځل بیا په جګړه کې له ټولو ښکیلو غاړو غواړي، چې هر وخت دي، د نړیوال بشر دوستانه قانون پراساس د ملکي وګړو خوندیتوب او هغوی ته د زیان نه رسیدو په تړاو خپلو مکلفیتونو ته جدي پام وکړي.

په وسله والو شخړ کې د ملکي وګړو د خوندیتوب په تړاو د یوناما د ۲۰۱۹ کال ربعوار رپوټ په دې ادرس د لاس رسي وړ دی.
http://unama.unmissions.org/protection-of-civilians-reports

* * *

**د یوناما د تاییدونو او ثبوت معیار**

*د ملکي وګړو د ساتنې د راپورونو په موخه، یوناما په راپورونو کې یواځې تایید شوي ملکي تلفات شاملوي. هغه ملکي تلفات د تایید شویو تلفاتو په څیر ثبتیږي، چې د بشپړو معلوماتو پر بنسټ تر لاسه شوي او یوناما بیا کتلي وي، دا یې معلومه کړې وي چې د دې څرګند او قناعت وړ شواهد شته چې ملکي وګړي وژل شوي یا ټپي شوي. ددغه معیار د پوره کولو لپاره، یوناما لږ تر لږه دریو مختلفو او خپلواکه سرچینو ته اړتیا لري لکه قرباني، شاهدان، طبي ماهرین، ځایي چارواکي، په جګړه کې د ښکیلو غاړو له خوا تایید، قومي مشر او یا نورې سرچینې. تر هغه ځایه چې شونې ده، معلومات د قربانیانو یا د پېښو د شاهدانو او د پیښې په ساحه کې د حقیقت موندنې کتنو له لومړنیو راپورونو څخه تر لاسه کیږي.*

*دغه ډول حقیقت موندنې د تل لپاره شونې نه وي، ځکه چې د امنیتي ملحوظاتو له مخې لاسرسی نه کیږي. په دغه ډول شرایطو کې یوناما پر یو لړ تخنیکونو اتکا کوي چې د پراخو باوري شبکو له لارې تر شوني حده د پراخو سرچینو او معلوماتو په کارولو سره معلومات ترلاسه کړي، چې ټول یې د اعتبار او باور لپاره ارزول کیږي. په دغو تخنیکونو کې د پیښې ځایونو څخه د راغونډ شوي دیجتلي شواهدو ازموینه لکه ویډیویي انځورونه او عړیز ریکارډونه؛ د روغتونونو او روغتیایي مرکزونو څخه لیدنې؛ د ملګرو ملتونو د امنیت او خوندیتوب د څانګې او نورو ادارو راپورونه؛ د دویم لاس سرچینې؛ د نادولتي ادارو او دریم ګړي له خوا راغونډ شوي معلومات؛ او خپله په جګړه کې ښکیلې خواوې شامل دي. یوناما په فعال ډول د جنډر په لحاظ له بیلابیلو سرچینو سره او همدارنګه د نژادي لړکیو، قومي او مذهبي ډلو او په ټولنه کې له منزوي شویو ډلو سره مشورې کوي، څو د نظریاتو تنوع یقیني او د هر ډول تبعیض خطر راکم کړي.*

*کله چې یوناما د ملکي تلفاتو په اړه د معلوماتو له کیفیت او کمیت څخه نه وي ډاډمنه، نو هغه تلفات د تایید شویو هغو په څیر په پام کې نه نیسي. یوناما په راپورونو کې نا تایید شوي پیښې نه ځایوي. یوناما د پیښو په اړه معلومات د جګړې له ښکیلو خواوو سره شریکوي څو په خپله راپور ورکونه کې کره والی یقیني کړي، او له ښکیلو خواوو سره د مخنیوونکو او احتیاطي تدابیرو په نیولو کې مرسته وکړي، او قربانیانو ته د خسارې د جبران د برابرولو په ګډون، احتساب ته وده ورکړي.*